TPM Vol. 32, No. 1, 2025
ISSN: 1972-6325
https://www.tpmap.org/

Open Access

# PASHTO PROSE AND THE CONTRIBUTION OF FAZAL RAHIM SAQI

DR SYED ZAFAR ULLAH BAKHSHALI

**ABSTRACT:**
This research paper critically examines the development of Pashto prose, focusing on the substantial contributions of Fazal Rahim Saqi within the framework of the Khudai Khidmatgar movement. While Pashto literary history spans centuries—from early historical texts to the stylized prose of Pir Roshan and the structural refinements of Khushal Khan Khattak—the 20th century marked a paradigm shift toward realistic, accessible, and social prose. Using textual analysis and socio-historical contextualization, this study evaluates Saqi's contributions across key literary prose forms: drama, short stories (Afsana), epistolary prose (maktuub nigari), and historiography. The findings indicate that Saqi's prose served both a artistic and functional purpose, transforming Pashto literature into a medium for social reform, political anti-colonial awareness, and historical preservation.

**Keywords:** Pashto Literature, Pashto Prose, Fazal Rahim Saqi, Khudai Khidmatgar Movement, Social Realism, Epistolary Literature.

د پښتو د معلوم تاريخ نه دا ثابته ده چې وړومبے نثرنګار مونږ سره محمد هاشم سرواني دے چې د "سالو وږمه" يې ليکلې ده چې زمانه يې د ۲۲۳هـ نه تر ۲۹۷هـ پورې ښودلے کېږي او دۀ سره سم سلېمان ماکو ۶۱۲هـ کښې تېر شوے دے، مشهور کتاب يې "تذکرة الاولياء"دے چې په دې کښې د پښتنو شاعرانو ليکوالانو د ژوند حالات ليکلي شوي دي. درېم ليکوال محمد علي البستي ۶۵۰هـ کښې ژوند کړے دے او د نثر په حواله يې يو کتاب "تاريخ سوري" هم ليکلے دے چې پکښې د سوري خاندان سياسي تاريخ ليکلے شوے دے، څلورم معلوم نثر نګار احمد سعيد لودي په ۶۸۶هـ کښې تېر شوے دے، د دۀ د نثر په حواله محمد افضل رضا په خپل کتاب "د پښتو د نثر تاريخ" کښې صرف دومره ليکلي دي:
"وئيلے شي چې شېخ احمد لودي په ۶۸۶هـ کښې يو کتاب ليکلے ؤ، په دې کتاب کښې يې د ملتان د لودي بادشاهانو حالات او اشعار راجمع کړي وو، د کتاب نوم يې ؤ "اعلام اللودي في اخبار اللودي"".[1]
دغه شان يو بل نثر نګار شېخ کټه متے زي چې په ۷۵۰هـ خوا و شا کښې يې ژوند کړے دے او مشهور کتاب يې "لرغوني پښتانۀ" په نوم يادېږي، شپږم نثر نګار په لرغوني دوره کښې شېخ ملي دے چې تقريباً ۸۳۰هـ خوا و شا کښې ژوندے ؤ او يو کتاب يې د "شېخ ملي دفتر" په نوم خلقو ته معلومېږي، چې په دې کتاب کښې د پښتنو د زمکو وېش کړے شوے دے او تقريباً د پښتنو په بعضې زمکو اوس هم د شېخ ملي دفتر وېش کېږي، لکه په سوات او ملاکنډ کښې په اله ډهنډ ډهېرئ او خوا و شا علاقو کښې دغه روايات اوس هم ژوندي دي.
د دغه دور بل نثر نګار خان کجو دے چې په ۹۰۰هـ خوا و شا کښې يې ژوند کړے دے، د خان کجو اصلي نوم خان احمد خان ؤ، دۀ " تاريخ کجو خان" په نوم يو کتاب ليکلے دے.
دغه پورتني دور ته که مونږه ځير شو نو دا خبره واضحه ده چې په د دې دور د نثرنګارانو د نثر اثار مونږ ته ډېر کم په لاس راځي او يا داسې وئيلے شو چې د دغه دور د ليکلو څو څو پاڼې په مختلفو لائبرېرو کښې موجودي دي خو ولې زياتره خلق يې په قياسونو باندې اتفاق کوي، د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک په کتاب کښې څه نمونې په ګوتو راځي، خو البته زيات اثار مونږ نۀ دي ترلاسه کړي.
خو چې کله خبره دوېم دور ته راځي نو د دغه دور اثار مونږ ته په کتابي شکل کښې مخې ته راځي، په دغه دور کښې پير روښان او د هغه مکتب او ورسره ورسره د اخون درويزه بابا ليکلے کتاب "مخزن اسلام" مونږ ته د نثر يو اعلٰى نمونه په لاس راغلې ده. د بايزيد انصاري دور د ۹۳۱هـ نه شروع کېږي او د دوي ليکلے کتاب "خېر البيان" د نثر ښکلې نمونه ده او د دغه دور اثار مونږ سره په کتابي شکل کښې خوندي دي او له دې وروستو د خوشحال بابا (۱۰۲۲هـ-۱۱۰۰هـ) دور راځي چې د پښتو شعر و ادب په مېدان کښې يو ځلنده باب لري، په دې دور کښې خوشحال خان او د هغه کورنۍ د پښتو ادب پنګه ډېره درنه کړې ده او پښتو ادب ته يې د شعر او نثر دواړو مېدانونو کښې ډېر څه ورکړي دي چې پکښې "دستارنامه" د قدر وړ کتاب دے او دغه شان "تاريخ مرصع" او نور ډېر کتابونه چې خوشحال خان خټک او د دوي کورنۍ پښتو ادب ته پېرزو کړي دي نو نن هم پرې د پښتو ژبې او ادب جولۍ ډکه ده.
په پښتو ادب کښې د نثر څلورم دور د ديارلسمې صدۍ هجرۍ نه تر څوارلسمې صدۍ هجرۍ پورې ښودلے کېږي او دغه شان دا په دېخوا هم دغه دور تاثرات رارون دي. د دې دور سر د ګل احمد خان (۱۲۴۲هـ-۱۳۰۱هـ) نه شروع کېږي او ورسره ورسره مولوي احمد "ګنج پښتو"، ميا احمد شاه رضواني چې مشهور کتابونه يې "شکرستان افغاني" او "بهارستاني افغاني" يادېږي او داسې نور نثرنګاران هم شته چې د دوي ليکليو کتابونه موجود دي.
دغه لنډ شان او سرسري نظر مې د پښتو د نثر په تاريخ تېر کړو، اوس د نثر د تعريف په اړه څو حوالې وړاندې کوم چې نثر څه ته وايي او نثر څه وي؟
مشهور خدائي خدمتګار عبدالاکبر خان اکبر د خپلې پوهې په رڼا کښې د نثر تعريف داسې کړے دے:
"د لټرېچر ترجمه په عربئ او اردو کښې ادب يا ادبيات کوي، اول اول په عربئ کښې د ادب نه مراد د بني اٰدم اوچت شريفانه خصلتونه وو چې د هغې دپاره دوېم لفظ تهذيب هم شته، لېکن ورو ورو د ادبياتو نه نور هم هغه تمام علوم مراد شو چې د هغې د ذهني شائستګۍ او تمدن پاکيزګۍ سره تعلق لرلو او د عجمي تهذيب او ادب اثر ؤ په دا وجه هغوي د لوبو ټوقو او د تفريح مشاغل هم په دې کښې شامل کړل".[2]
ښاغلے صديق الله رښتين صېب د ادب تعريف داسې کوي:
"د عربو په لغت کښې د پوهې، زيرکۍ، بلنې او د هر شي د اندازې د ساتلو په معنٰی راغلے دے او په اصطلاح کښې د ادب دوه ډوله دے، يو نفسي ادب دے چې اخلاقي فضيلت او ښېګړې ته وايي او بل درسي ادب دے چې له دې څخه مطلب په ښۀ طريقه وئيل او ليکل او خپل مطلب ښکاره کول دي".[3]
ښاغلے عبدالحی حبيبي صېب د ادب تعريف داسې کوي:

"ادب پر دوه ډوله وي، يوه ته طبيعي او نفسي ادب وايو چې لوړ يې تعريف راغے او د انسان اخلاقي ښېګړې لکه ښندنه، زغمنه (حلم) او نورې اړه پورې لري، دوهم ډول ته کسبي او درسي ادب وايو چې په لوستنه او زده کړه او پلټنه موندل کېږي او دغه دوهم ډول ادب ته نو د ادب علم هم وايي".[4]
ښاغلے سحر يوسفزے په خپل کتاب کښې د سنټ اګسټائن په حواله د ادب تعريف داسې رانقل کړے دے:
"که زمونږ نه دا تپوس وشي چې ادب څه ته وايي نو زمونږه لوئے لوئے نقادان به په دې وېنا مجبور شي، که زما نه تپوس نۀ کوې نو زۀ پرې پوهېږم او که زمانه تپوس کوې نو بيا پرې هيڅ نۀ پوهېږم".[5]
محمد افضل رضا په خپل کتاب "د پښتو د نثر تاريخ" کښې د نثر تعريف داسې بيانوي:
"په لغت کښې نثر پاشلو او تيتولو ته وئيلے شي ولې په اصطلاح کښې ترې نه مراد هغه کلام دے چې د وزن د قېد نه ا٘زاد وي. د معنې په لحاظ د نثر درې قسمونه دي:
١) هغه خبرې اترې هم په نثر کښې شاملې دي کومې چې مونږه د يو بل د پوهولو راپوهولو په غرض کوو.
٢) هغه وېنا يا تقرير چې پوهان يا عالمان يا مشران يې د سترو مقصدونو بيانولو او اورېدونکو د پوهولو په غرض کوي.
٣) دريم هغه نثر دے چې د علومو او د سترو مقصدونو دپاره ليکلي شوو کتابونو دپاره د ماضي تاريخ ګرځېدے شي".[6]
د پورتنيو حوالو نه مونږه دا اندازه لګولے شو چې ادب په دوه ډوله دے، يو نظم او بل نثر، يعنې نظم هغه چې د يو خاص چوکاټ دننه پکښې شاعري کېږي او نثر هغه چې د رديف او قافيو د قېد نه ازاد وي او روان ليکلے کېږي.
"نثر په اصل کښې د عربۍ ټکے دے او معنٰی يې نوستل، خورول او شيندل او اصطلاحي معنٰی يې د نظم ضد خو اديبانو او عالمانو د نثر دپاره علمي تعريف دا مقرر کړے دے، هغه کلام چې په څه وزن يا بحر کښې تړلي نۀ وي نثر دے".[7]
ښاغلے قاضي عبدالحليم اثر افغاني د نثر تعريف داسې کوي:
"نثر په لغت کښې ښندلو، پاشلو او خورولو ته وايي او په اصطلاح کښې هغه کلام دے چې د وزن د قېد نه خالي او ا٘زاد وي".[8]
ښاغلے مولانا عبدالقادر د نثر په حواله خپل موقف داسې ورکوي:
"د نثر د توري خپله معنٰی د مرغلرو يا مشکنو پئيل دي، مرغلرې راوښکل او هغه بيا په يو خاص شکل کښې پئيل، مړل، سپېځل لوئے کړاؤ او زيار غواړي".[9]
نوموړے ليکوال فضل مير خټک د نثر په حواله يو ليک کښې داسې وضاحت کوي:
"په لغت کښې د نثر معنٰی ده ښندل، ښنل، پاشل، نوستل او پرېشانه کول، په اصطلاح کښې هغه ليک يا خبرې چې بغېر د څه بناوټ او تصنع داسې ازادۍ سره وليکلے شي يا ووئيلے شي چې د وزن پابندي په کښې نۀ وي، د الفاظو ترتيب يې فطرتي وي".[10]
څنګه چې ما مخکښې ووئيل چې نثر د نظم ضد وي، غزل يا نظم په رديف او قافيو کښې پابند وي، خو د دې برعکس نثر کښې دا قسم پابندي نۀ وي، البته په مختلفو دورونو کښې مختلف قسم نثر رامينځ ته شوے دے، لکه د "خېر البيان" نثر او داسې نور قسم چې په سجع سټائل کښې ليکلے شوے وي.
"د خېر البيان د ليک انداز منفرد دے، دا په سجع او مقفي نثر کښې ليکلے شوے دے، که څه هم د دې کتاب په ځينو ځايونو کښې د اهمو مسئلو وضاحت دپاره د قرآن کريم ا٘يتونه او د رسول پاک حديثونه راغلي دي، مګر اهمه او مرکزي برخه يې په پښتو نثر مشتمله ده".[11]
هم دغه وجه ده چې د "خېر البيان" نثر د قرآن مجيد د سورة الرحمٰن په طرز کښې ليکلے شوے دے، ځکه چې بايزيد انصاري په "خېر البيان" کښې خپله ليکي:
"زما ډېر ستر صفت وکښه، خوښي مې پېدا شي چې زما ډېر ستر صفت وايي ادميان، ګوره زما تسبيح وايي چې زما په مزکه کښې دي يا په اسمان نشته هيڅ بېرون چې زما تسبيح وايي، تۀ باور کړه په دا بيان، تسبيح لله کافي السموت و ما في الارض په قرآن کښې دي عيان".[12]
او وړاندې ليکي:
"وکښه خېر البيان په هغه هسې اطان چې يې به لوست سورت الرحمٰن".[13]
خو د "خېر البيان" د نثر نه پس د خوشحال خان خټک خپل يو انداز کښې نثر ليکلو رواج عام کېږي چې د هغه د خوشحال بابا او د هغوي د کورنۍ ځانله يو جدا سبک او اسلوب راځي او دې نه پسته بيا په ځلورم دور کښې نثر عاري رامينځ ته کېږي چې هغه روان او ساده نثر بللے کېږي. ښاغلې مېرمن بي بي مريم په خپله تحقيقي مقاله کښې د نثر په حواله دغه ټکي راوړي:
"نثر د نظم ضد دے او د نظم بعضې اصناف لکه ا٘زاد نظم، معرٰی نظم او په تېره تېره نثري نظم د نثر زيات فرق نۀ لري، بلکې د نثري نظم او نثر ترمينځه فرق کول هم ګران وي، مونږ وينو چې د دنيا په مختلفو ژبو کښې زيات علمي او تحقيقي کار په نثر کښې شوے دے، ځکه چې د نثر جولۍ ډېره ارته ده، سينه يې فراخه ده".[14]
په دې لړ کښې سيد محي الدين هاشمي د نثر ډولونه په تفصيل سره بيان کړي دي، د هغې نه يو اقتباس رانقل کوم:
"د ادب پوهانو په اصطلاح نثر يو ادبي ډول دے او څه رنګه چې د وزن او قافيې له قېده خلاص دے نو د هر ډول افکارو د افادې او بشري پوهې، ديني، ښوونيزو روزنيزو او ټولنيزو مسائلو د څرګندولو مناسبه وسيله ده، نثر له عاري وېنا او خبرو اترو نه لوړ دے.
١) ساده يا مرسل نثر: هغه نثر دے چې لفظي او معنوي صنائع پکښې نۀ وي کارول شوي.
٢) فني نثر: چې ليکوال ورسره خپل احساسات او عواطف هم ملګري کوي او په بله وېنا د مطالبو د افادې له پاره له تخيلي ځواک نه کار اخلي.
٣) ساده ولسي نثرونه: چې کټ مټ د خلکو په ژبه چې څنګه يې وئيل کېږي، هماغسې ليکل کېږي".[15]
د پورتني تعريفونو او مفهومونو نه مونږه په دې نتيجه رسو چې نثر د نظم ضد دے، په نظم کښې د لفظونو په وزن بحر زور ورکولے شي او په نثر کښې ټوله توجه د وزن بحر په ځائے خيال او مقصديت پله وي، هم دغه وجه ده چې نثر ترقي کوي او مخ په وړاندې روان دے او شاعري نۀ ځکه چې د نثري نظم يا ا٘زاد نظم ضرورت هم ځکه مخې ته راغلے چې په دې کښې ليکوال د لفظونو په ځائے په خيالاتو باندې نظر لري چې کله عقلي دلائل شروع شي او د جذباتو په ځائے عقل ته توجه ملاؤ شي نو نثر ترقي کوي. په موجوده دور کښې د پښتو نثر د ترقۍ نه مونږه دا اندازه لګولے شو چې اوس پښتانۀ د جذباتو په ځائے په عقلي او منطقي دلائلو يقين لري. شاعري د جهالت په دور کښې ترقي کوي او چې کله د عقل او استدلال رڼا راشي نو شاعري زوال طرف ته ځي او نثر ترقي کوي، خو د دې هر څه باوجود اوس هم په پښتو ادب کښې د نثر ضرورت زيات دے او د نثر په مېدان کښې محققين خپله ونډه سېوا کوي او نوې نوې څېړنې مخې ته راځي.

## د فضل الرحيم ساقي نثري اسلوب

څنګه چې ما وړاندې په تفصيل سره د خدائي خدمتګار تحريک د شاعرۍ او شعري اسلوب باندې خبرې کړې وې او هم دغه شان دلته کښې د ساقي صېب په نثري اسلوب باندې خبرې کول غواړم.
څنګه چې خدائي خدمتګار تحريک په سياسي، قامي، وطني شاعرۍ کښې ځانله يو مکتب دے نو هم دغه شان په نثر کښې هم ځانله يو جدا مکتب لري، د پښتو جديد نثر اغاز که يو طرف ته د مولوي احمد د "ګنج پښتو" نه کېږي او د طنز و مزاح نثرونه مخې ته راځي نو بل خوا پکښې نوي نوي ليکوالان پېدا کېږي او دغه تسلسل رااروان دے خو چې کله خبره خدائي خدمتګار تحريک ته رارسي نو خبره نوره هم عام فهمه، ساده او اولسي کېږي، د دې بنيادي وجه دا هم وه چې دا يو اولسي تحريک ؤ او ټولو شاعرانو او اديبانو د اولس په ژبه خبرې کولې، د خپل پېغام د رسولو دپاره يې يو طرف ته عام فهمه شاعرۍ ته دوام ورکړو نو بل طرف ته يې ساده او اسان نثر ليکل شروع کړل. باچا خان په خپله په ساده ژبه کښې خلقو ته تقريرونه شروع کړل او خط و کتابت له پاره يې ورته په ١٩٢٨ء کښې

"پښتون" رساله شروع کړه چې پکښې د خدائي خدمتګارو ليکوالانو نثري ليکونه شائع کېدل. په دغه ليکوالانو کښې ډېر داسې وو چې هغوي به ډېر شعر ليکو او بعضې داسې وو چې د هغوي توجه نثر او نظم دواړو ته وه، دغه شاعرانو او ليکوالانو کښې ماسټر عبدالکريم، ولي محمد طوفان، خان مير هلالي، سعادت خان جلبل، عبدالاکبر خان اکبر، عبدالولي خان، فضل الرحيم ساقي او داسې نور ډېر ليکونکي وو، چې ډېر په ساده او موثره ژبه کښې يې پښتنو ته خپل پيغام ورسولو، دغه شاعرانو او ليکوالانو کښې فضل الرحيم ساقي هم يو نومووړے ليکوال ؤ، چې د ژوند ډېره برخه يې په ليک لوست کښې تېره کړې وه، د ليکونکي په حېث مونږه د ساقي صېب د نثري اثارو جاج د تحقيق په رڼا کښې اخلو، چې پکښې ډرامه، افسانه، مکتوب نګاري او تاريخ نويسي شامله ده.

ډرامه

خدائي خدمتګار تحريک په بنيادي توګه د شاعرۍ سره سره نثري اصنافو ته هم په بشپړه توګه پاملرنه کړې وه، اګر چې د نظم په مقابله کښې نثر ليکل ډېر ګران او د کړاؤ کار دے، ځکه چې نثر علم، پوهه او ډېر وخت غواړي، د خدائي خدمتګارو ټول غړي اګر چې ډېر عالمان او پوهه خلق وو، د سياسي، فلاحي او قامي مصروفياتو په وجه ورسره د وخت ډېر کمے ؤ چې ازاد به ؤ نو په قامي تحريک کښې به شپه ورځ ګرځېدل، قام ته به يې د بېدارۍ تبليغ کولو او چې په جېل کښې به بند ؤ نو مشقتونه به يې ترې اخيستل خو د دې هر څه باوجود يې په نثر کښې ډېره ونډه اچولې ده. که مونږه د پښتو نثر تاريخ ته ځير شو نو د بايزيد انصاري او اخوند درويزه او د هغوي د شاګردانو، مريدانو نثر تقريباً تقريباً د يو اسلوب ښکاري، ځکه چې د دغې دور تقاضه دا وه چې داسې نثر دې تخليق کړے شي چې په هغې کښې پيغام هر څه وي خو چې طرز تحرير يې مقفي، مسجع او مذهب ته ورته وي، چې خلق يې په اسانه قبول کړي او په دغه اسلوب کښې د روښانيانو د دور نثر وليکلے شو. د دې نه پس چې اسلوب ډېر واړوله نو د خوشحال بابا دور شروع شو، خوشحال بابا د يو ځانګړي اسلوب خاوند دے، د مخکښې دور نه خوشحال بابا څه قدرې نوے والے د مذهب د قېد نه ازاد او اسان نثر تخليق کړو او دغه شان د دۀ کورنۍ هم د دۀ په نقش قدم روانه شوه چې د پښتو ادب زرين دور د خوشحال بابا او د هغۀ د کورنۍ وخت ته وئيلے شي او ځکه خو خوشحال بابا دا شاعرانه تعلي کوي:

"که د نظم که د نثر د خط دے
په پښتو ژبه مې حق دے بې حسابه
نۀ پخوا پکښې کتاب ؤ نۀ يې خط ؤ
دا دے ما پکښې تصنيف کړل څو کتابه"[16]

خو چې کله شلمې پېړۍ کښې د انګرېز د مقابلې سره چې په ادب کښې کوم بدلون راغے، هغه هم د يادولو جوګه دے، په دغه بدلون کښې تر ټولو نه اهم کردار د خدائي خدمتګار تحريک دے چې د نورو ډېرو اصنافو سره سره يې ډرامې ته هم ډېره وده ورکړه. د ډرامې صنف ابتداء هم په پښتو کښې د خدائي خدمتګار تحريک نه شوې ده، د دې تحريک ډرامې د اسلوب په لحاظ المناکي دي، ځکه د هغه وخت او د تحريک د ترقۍ دپاره د دغه قسم ډرامو ضرورت وو، په دغه ډرامو کښې به د تحريک د هلو ځلو او د پښتون قام د پسماندګۍ، د جېلونو منظرونه، په حکومت طنز او دغه رنګ يو شمېر نورې الميې پکښې د ښکاره کولو کوششونه شوي دي، د خدائي خدمتګار ډرامې شروع عبدالاکبر خان اکبر "درې يتيمان" نه کړې ده.

"د پښتو وړومبۍ ډرامه د اتمانزو په هائي سکول کښې سکوليانو ته پېش کړې وه، دغه ډرامه عبدالاکبر خان اکبر ليکلې وه، په دغه ډرامه کښې ښاغلي ليکوال د هغه وخت په انګرېزي سرکار پوره تنقيد کړے ؤ، داسې معلومېږي چې د پښتو ډرامې ليک د ۱۹۲۸ء نه لړ وړاندې شروع شو، ځکه چې ۱۹۲۸ء نه ۱۹۳۰ء پورې چې دغه ليکوال د سکول په کاليزو جلسو کښې کومې وړې اصلاحي ډرامې پېش کولې، هغه د پښتو ډرامې د پرمختګ وړومبي ګامونه ګڼلے شي".[17]

د پښتو د دې وړومبۍ ډرامې په حواله ډاکټر محمد اعظم اعظم په خپل کتاب "پښتو ادب کښې کردارنګاري" کښې داسې نظر ورکوي:

"ښاغلي عبدالاکبر خان اکبر "درې يتيمان" د پښتو اولنۍ ډرامايي زيار ګڼلے شي، دا ډرامه د اتمانزو د ازاد سکول د کليزې په دستوره کښې په کال ۱۹۲۷ء کښې سټېج شوه، د دې ډرامې رنګ اصلاحي ؤ او په دې کښې په پښتني معاشره کښې د خانانو د زور زياتي او د هغه وخت د ځينو نام نهاده مذهبي عالمانو د رياکارۍ او د دوي د فريقي رويې خلاف په ډېر ساده خو ربښتيني او موثر انداز کښې اواز پورته شوے وو. "درې يتيمان" هم د هغه اصلاحي تعميري او انقلابي ادب د زنځير يوه کړۍ ده، کوم چې د نوو سياسي او اولسي تحريکونو په پس منظر کښې د شلمې صدۍ د شروع کېدو سره په پښتونخوا کښې ساه اخستې وه".[18]

په دې حواله ښاغلے عبدالخالق خليق صېب هم د دې ډرامې په حواله ليکي:

"سبا له د عبدالاکبر خان ليکلے شوې يوه ډرامه سټېج شوه چې خلقو ډېره خوښه کړه، په دې کښې د حکومت په نظام يو داسې تنقيد شوے ؤ چې د هر سړي په زړۀ کښې د انګرېزي حکومت د نظام نه نفرت پېدا شو".[19]

هم دغه وجه ده چې د پښتو ډرامې ابتداء د عبدالاکبر خان نه کېږي او بيا دغه سلسله نۀ ودرېږي چې پکښې قاضي رحيم الله "نوې روشني"، د امير نواز خان جليا "درد"، د عبدالخالق خليق "جونګړه"، د قاضي رحيم الله "تعليم جديد" او داسې نورې ډرامې وليکلے شوې چې پکښې د ليکونکي سره سره نورو خدائي خدمتګارانو هم په خپله برخه اخسته چې د دې په وجه به يې بالکل د ربښتياؤ تصويرونه پېش کول.

فضل الرحيم ساقي هم د دغې کاروان ملګرے ؤ، هغه هم د نوو اصنافو سره سره په ډرامه کښې هم طبع ازمايي کړې ده، اګر چې ساقي صېب صرف درې ډرامې ليکلي دي خو مقصدي ډرامې دي، لکه څنګه چې د خدائي خدمتګار تحريک د روايت مطابق ډرامې راروانې دي، دغه وجه ده چې د دۀ په ډرامه کښې د خدائي خدمتګارۍ او د هغه وخت د تقاضو مطابق حالات په نظر راځي. د ساقي صېب چاپ ډرامې "سپېرۀ مرګے"، "سيد اکبر شهيد" او "شهيد د وطن" چې په "پښتون" رساله کښې په مختلفو دورونو کښې چاپ شوي دي، د دې ډرامو په حقله ډاکټر محمد زبېر حسرت ليکي:

"سپېرۀ مرګے کښې زمونږه د دې خاورې سره تړلي يو داسې ويني ويني داستان دے چې کردارونه يې د دې زمکې د يو عامې پښتنې کورنۍ دي او ځکه چې منطقي انجام ته رسي نو د ټولنې د غلطو رسمونو رواجونو د اصلاح دپاره د خدائي خدمتګارۍ د موخې په حصول تمامېږي او د باچا خان د ښودلې شوې لار او مرام په ګوته کوي او خپله وظيفه ترسره کوي".[20]

وړاندې ليکي:

"سيد اکبر شهيد ډرامګۍ او وادۀ وشۀ ربښتونې قيصه د ساقي صېب د نثري او منظوم کتاب "د صبر جنګ" نه ترتيب کړے شوي دي چې د کتاب په قلمي متن کښې ورته ډرامګۍ او ربښتونې قيصه ليکلي شوي دي".[21]

که مونږه وګورو نو ساقي صېب بنيادي طور سره ډرامه نګار نۀ دے خو ولې بيا هم يې درې ډرامې ليکلي دي چې د نورو خدائي خدمتګارو د ډرامو تسلسل پکښې ليدۀ شي. د ساقي صېب د ډرامو انداز د مکالمې انداز ډېر واضحه او ساده دے، خبره يې نبغ په نبغه ده، د دوي په ډرامو کښې لکه د نورو خدائي خدمتګارانو ډرامو په شان د وخت د استعمار خلاف د پښتنو د ازادۍ او د پښتنو د بېدارولو نخښې په نظر راځي. د پلاټ جوړښت يې په ډېر ښکلي انداز کښې شوے دے، د کلي وال ماحول نه يې د ډرامې پېل کېږي، يعنې منظرکشي يې ډېره موثره وي، لکه د مثال په توګه:

"مشال خان: لالا! اسلام علېکم
خوشحال خان: وعلېکم السلام، راځه کښېنه مشاله! څنګه دې راپېښه وکړه؟
مشال خان: لالا! زۀ نن تاله يو سوال له راغلے يم.

خوشحال خان: حکم کوه دا سوال پکښې لا څه وي.
مشال خان: لالا! که ستاسو خوښه وي نو ګل اندامه عالم ګل له راکړه.
خوشحال خان: ښه خبره ده خو زۀ به کور صلا وکړم، بیا به دې خبر کړم.
مشال خان: خو لالا! تشه جولۍ مې ونۀ لیږې".[22]

او دغه رنګ دا ډرامه چې کله خپل کلائمیکس ته رسي نو په ډېر دردناکه انداز کښې ختمیږي او یو سبق اموزه نصیحت کوي، ځکه چې په دې ډرامه کښې د پښتنو د ناوړو کارونو نشاندهي شوې ده چې پښتون په پېغور باندې بد ګڼي او دغه وجه وي چې عالم ګل د خپل وادۀ دپاره ټول کور بار جائېداد خرڅ کړي او بیا تش لاس کور کښې ناست وي او چې کله کور کښې جګړه وشي نو د مرګ په کېس کښې جېل ته لاړ شي او هلته پرې د پهانسۍ حکم وشي او د یو نظم په شکل کښې دا ډرامه سر ته ورسي چې ډېر د درد او افسوس نه ډک وي، لکه:

"څوک نشته چې اوبۀ مې کړي یو ګوټ په خولۀ کښې توې
نۀ مور او پلار لرم، نۀ مې خاوند شته نۀ مې زوې
خاوند زوي، لور مې وخوړل د بد عمل ښامار
بې هیڅه مې کور وران شه په تا وې او په ما وې
که دا ټوله دنیا څوک راپره کړي سر د سره
زما په شان به نۀ وي بدنصیبه چرته کښې
دا ساه دې خپله واخله چې دنیا شي رانه پاکه
تر څو به ما خاونده په عالم کښې شرموې"[23]

د ساقي صېب د ډرامو دا کمال دے چې د وخت زمان او وحدتِ مکان د واړو خیال پکښې ساتلے شوے دے او ورسره ورسره یې پلاټ هم ډېر مضبوط وي، ډېر په کمال ډرامه خپل انجام ته رسي او خپله مدعا پکښې وړاندې کوي. دغه رنګ نورې ډرامې "سید اکبر شهید" کښې هم هغه د یو زلمي حال په داسې انداز کښې وړاندې کوي چې دا یو حقیقي کردار وي، د هغه د خپل وطن او قام سره دومره مینه وي چې د خپلې خاورې د ازادۍ له پاره په قلعه بالا حصار ورځي او خپل ځان شهید کوي او بیا د دغې شهید په سر کښې سحر خدائي خدمتګاران راووځي او د وخت حکومت خلاف جلسې او جلوسونه کوي. په دې ډرامه کښې ساقي صېب د خپل نثر لیکلو هنر ښودلے دے او دا یې ثابته کړې ده چې لکه د نورو خدائي خدمتګارو د ډرامه نګارو په صف کښې ځان ودرولے دے، اګر چې ساقي صېب بنیادي طور سره یو قامي شاعر او مؤرخ ؤ، خو ولې په ډرامه کښې یې هم طبع ازمایي کړې ده، د ډرامې فني چوکاټ یې برابر ساتلے دے، ژبه یې ساده او عام فهمه ده.

"ژبه یې ساده، اسانه او سوچه پښتو ده او مکالمې یې د کردارونو مطابق دي، د پلاټ او قیصې جوړښت یې زړۀ راښکون لري، د ترحم جذبه راپیدا کېږي، ځکه چې دا د خپل دور یوه غمیزه ډرامه ده".[24]

د ساقي صېب یوه بله ډرامه چې په "پښتون" مجله کښې په ۱ اکتوبر ۱۹۴۰ء کښې قسط وار چاپ شوې ده، هغه هم د دغې تسلسل کړۍ ده چې د ډرامې مرکزي کردار فتح محمد خان ادا کړے دے او دا هم یو حقیقي کردار ؤ، دا یو خدائي خدمتګار چې د منګا اوسېدونکے ؤ، په خدائي خدمتګارۍ کښې ټول ژوند تېر کړے ؤ، بنیادي طور سره په دې ډرامې کښې هم د حکومت خلاف ډېره پروپېګنډه شوې ده او د پښتنو د حقوقو غوښتنه پکښې شوې ده.

لنډه دا چې د ساقي نثر د جملو جوړښت، د ژبې پوستوالے او د اولس د جذباتو سره سمه خبره کول د ساقي صېب د نثر کمال ؤ او دغه خوږلت پکښې د خدائي خدمتګار تحریک له وجې ؤ چې ساقي صېب په دغه تحریک کښې ډېر وخت تېر کړے ؤ، د مختلفو علاقو دورې او د خلقو د ژوند ژواک نه خبر ؤ، نو ځکه یې په لیک کښې هغه اثرات ښکاري، ساقي صېب د خدائي خدمتګار تحریک د اسلوب څښتن ؤ.

افسانه

خدائي خدمتګار تحریک کښې افسانه هم لیکلې شوې ده، هسې خو چې مونږ د خدائي خدمتګار تحریک باره کښې اورو یا ګورو نو مونږ ته د دغې تحریک هر څه افسانوي غوندې ښکاري، خو دغه ټول واقعات په حقیقت کښې ترسره شوي دي. د پښتو افسانې شروع هم د دغې وخت نه شوې ده، د پښتو د افسانې پېل راحت زاخیلي کړے دے، راحت زاخیلي اګر چې په عملي توګه په دې تحریک کښې شامل نۀ ؤ خو د دغې دور سره یې تعلق ضرور ؤ. په هغې دور کښې د پښتنو په معاشره کښې معاشرتي خرابیانې انتها ته رسېدلي وې نو په دغه تناظر کښې راحت زاخیلي په معاشره کښې د یوې "کونډې جینۍ" په ژوند او د هغې سره د شوو زیاتو په حواله لیکلې شوې ده، په دغه مناسبت یې ورته نوم هم "کونډه جینۍ" ایښودے شوې ده.

"د پښتو ادب په دنیا کښې افسانې ته وړومبے هرکلے ښاغلي راحت زاخیلي وکړو چې په پښتو ادب کښې یې د افسانې د صنف اوله رده کېښوده، دغه شان راحت زاخیلي د پښتو افسانې سالار وټاکلے شو، راحت زاخیلي خپله اوله افسانه "کونډه جینۍ" په کال ۱۹۱۷ء کښې ولیکله، دوېمه افسانه "شلېدلي پڼه" په کال ۱۹۱۹ء کښې ولیکله او په دې ډول پښتو افسانې خپل مزل شروع کړو".[25]

هم دغه وجه ده چې که پښتو افسانه ده که ډرامه یا ناول دے خو سر یې د خدائي خدمتګار تحریک ته رسي، ځکه چې دې تحریک د پښتو شعر و ادب په مېدان کښې تقریباً د هر نوي صنف اغاز کړے دے، پښتو ادب کښې په شعوري ډول سره پښتو ډرامه، پښتو افسانه او پښتو جدید نظم هم له دې دور نه پېل کېږي او تر نن پورې دغه اسلوب زمونږه نوو لیکوالانو خپل کړے دے، دغه نثري لیکونه به په "پښتون" مجله کښې خپرېدل او په خلقو کښې یې د بېدارۍ پیدا کولو هڅې کولې. ښاغلے عبدالکافي ادیب په دې حواله لیکي:

"دغه دور کښې په پښتو ژبه کښې سید راحت زاخیلي د لنډې افسانې فن په سر څنه کښې معروف ؤ، دا رنګه راحت زاخیلي پښتو ادب کښې په وړومبي ځلي لنډه افسانه متعارف کړه، د راحت لیکلي افسانې "کونډه جینۍ"، "شلېدلي پڼه" او "د شریف خان سخي" د ابتدایي دور افسانې دي".[26]

ښاغلے زرین انځور د راحت صېب د لنډې قیصې په حواله خپله رایې داسې څرګندوي:

"کونډه جلۍ بیا د هغه او د پښتو دوېمه معلومه کیسه ده چې د لنډې هنري کیسه ډېرې ځانګړتیاوې لري، په تېره بیا له اجتماعي پلوه د پښتنو د ژوند د یوې عمده نیمګړتیا یا له ښځو او په تېره له کونډو سره د زور زیاتي او تاو تریخوالي په اړه یوه په زړۀ پورې کیسه ده. استاد راحت زاخیلي نورې ښې کیسې هم لیکلي دي خو تر ټولو مهمه خبره دا ده چې هغه د یو مخکښ او سرلاري په توګه په پښتو داستاني ادبیاتو کښې یو د ستاینې وړ لیکوال دے".[27]

د راحت زاخیلي د کونډې جینۍ نه چې کله د افسانې پېل وشو نو نورو لیکوالانو هم دې فن ته توجه ورکړه او د ماسټر کریم غوندې پیاوړي افسانه نګار یې مخ کړو، هغه د خپل دور یو ښۀ افسانه نګار ؤ، د افسانو مجموعه یې د "ځولۍ ګلونو" په نوم شهرت لري، د ماسټر کریم ژوند او فن باندې وروستو ګران ملګري اشفاق احمد وطن یار د ایم فل ډګري هم واخسته. د دې دور د نثر لیکوالانو کښې ماسټر کریم یو ځلنده نوم ؤ چې ډېر خوږ او اسان نثر یې لیکلو، افسانه او نور سیاسي مضامین یې هم د لوستلو جوګه دي، چې د خپل قامي فکر هنداره ده.

"ماسټر صېب که سیاسي مضامین لیکلي دي او که ادبي ټولو یې د طنز و مزاح خواږۀ په خولۀ کښې اچولي دي، د هغه په نثر کښې د طنز تراخۀ لوګي سترګې هم ترخوي او د مزاح په شېرینۍ یې پیکه خولۀ هم خوږولے شي".[28]

TPM Vol. 32, No. 1, 2025
ISSN: 1972-6325
https://www.tpmap.org/



دغه شان که موږ د فضل الرحیم ساقي د افساني اسلوب ته ګورو نو هغه هم خدائي خدمتګارانو د تخلیقاتو په شان یو ښهٔ افسانه لیکونکے دے. د ساقي صېب د افساني اسلوب هم د خدائي خدمتګارو افسانوي ادب ته ورته دے، د ساقي صېب یوه افسانه چې په ۲۲ فروري ۱۹۶۱ء کښې په "غُنچه" پېښور کښې خپره شوې ده، دا افسانه په ۸، ۹ او ۱۲ مخونو باندې د "غم ښادي" په نوم چاپ ده.

په دې افسانه کښې مرکزي کردار د سپین ملنګ او تور ملنګ دي چې دا یو علاقائي نومونه دي، یعني د ساقي صېب په ډېرو لیکونو کښې د سپین ملنګ او تور ملنګ یادونه شوې ده، په دې افسانه کښې ساقي صېب د معاشرې په یو ناوړه کردار باندې رڼا اچولې ده، چې پکښې دا ښودلې شوي دي چې د خپل څادر سره پښې غزول پکار دي، ځکه چې کوم خلق د خپل ځان خیال نهٔ ساتي او د نورو نهٔ ساتي نو د هغه ژوند وروستي وختونه ډېر خراب دي. سپین ملنګ او تور ملنګ بنیادي طور سره د خپل خپل کلي خانان وي خو چې کله نشې تماشې شروع کړي نو د پلار ټول جائېداد خرڅ کړي او بیا په لارو کوڅو کښې ګرځي او د خپل غم له پاره چرس پوډر شروع کړي، د افساني پلاټ یې هم ډېر مضبوط دے، ځکه چې ښاغلي لیکونکي خپل قلم د معاشرې په ناوړو کارونو باندې ګرځوي. ژبه یې ډېره ساده او روانه وه، د خپل ماحول د خان ازم غندنه یې کړې ده او کوشش یې دا کړے دے چې پښتانهٔ د غلطو کارونو نه بچ پاتې شي، د مکالمې انداز یې ډېر زړهٔ راښکون لري.

"تور ملنګ ورته ووې یار ما خو ټوله ورځ کښې څلور انې پیدا کړې وې چې اوس مې لوګے کړې، تهٔ خو مې هم نن د چوک یادګار خوا کښې کچکول په لاس ناست لیدلے وې، تا څهٔ پیدا نهٔ کړل څهٔ؟ نه یار ما خو ټوله ورځ چغې ووهلې خو د سختو زړونو خاوندانو لاس جېب ته ښکته نهٔ کړو".[29]

که موږه وګورو نو دا خبره واضحه ښکاري چې ښاغلي لیکونکي د افسانې په فني لوازماتو خبر وو او لکه د نورو خدائي خدمتګارانو په شان دوي هم خپل طبع ازمایي په افسانه کښې وه، په دې افسانه کښې زموږه د دود دستور هم عکاسي شوې ده چې د غلطو رسمونو له وجې زموږ ډېرې پښتنې د پلار په کور کښې زړې شي او دغه شان ځوانان هم د کور داج پوره کولو په خاطر د خپل کور ټول ساز و سامان خرڅ کړي او د پښتو ننګ او غېرت د وجې په ودونو کښې بې ځایه خرڅونه وکړي او بیا د پولې پرق ته ناست وي.

د افساني اختتام هم په داسې انداز کوي چې د هغې نه زموږ د معاشرتي رويې اندازه په اسانه کېږي چې زموږه په معاشره کښې غریب خوار ته څومره اهمیت حاصل دے او خانان نوابان په خپلو نشو تماشو کښې مست وي.

"سپین ملنګ د بازار په سړک د کابلۍ دروازې ټانې ته په یوه لویه سودا کښې ډوب روان ؤ چې د شا د اړخه یو موټر مخکښې ځان ته وغورځولو او دپاسه پرې تېر شو، ډرائیور د موټر نه سر راوکښو او خان بهادر صاحب ته یې ووې "مردار شوے دے"، خان بهادر ورته وې "څه ناوخته کېږي".[30]

د پورتني بحثونو نه موږ په دې نتیجه رسو چې د ساقي صېب که یو طرف ته شاعري کړې ده نو بل طرف ته یې نثر هم لیکلے دے او نثر یې ډېر خوږ او اسان دے، د جملو جوړښت یې برابر دے. موږه دا وئیلے شو چې ساقي صېب د یو تاریخ لیکونکي سره سره یو ښهٔ افسانه نګار هم دے.

مکتوب نګاري:

خط لیکل او لېږل خو هسې هم د رابطې یوه ذریعه وه چې اوس یې په جدیده دنیا کښې شکل بدل شوے او تېز شوے دے خو په ادب کښې مکتوب نګاري یو جدا صنف ګرځېدلے دے. په تاریخ کښې د ادبي خطونو مثالونه ډېر شته چې د دغې ادبي خطونو وروستو د ادبي کتابونو شکل اختیار کړو او اوس مکتوب نګاري ځانله یو مکمل صنف منلے شي.

په پښتو کښې هم باقاعده طور سره مکتوب نګاري د خدائي خدمتګار تحریک نه شروع شوې ده، ځکه یې د دې تحریک د رابطې اړیکې ډېرې مضبوطې وې، چې لږ به هم د یو بل نه لرې شول نو رابطه به یې د خط په ذریعه قائم ساتله او دغه خطونه د عام تپوس پوښتنې نه علاوه د تحریک په هلو ځلو هدایاتو او احکاماتو مشتمل وو، د دې تحریک مشران چې به کله حکومت ګرفتار کړل نو دوي به د جېل نه د خط په ذریعه هم دغه تحریک مخ په وړاندې بوتلو، هم دغه وجه ده چې د دې په نتیجه کښې ډېر خطونه مینځ ته راغله او هغې یو ادبي او تاریخي حېثیت اختیار کړو.

موږ که د تاریخ په پاڼو نظر واچوو نو موږ ته ډېرې نمونې داسې مخې ته راځي چې هغوي د خپلو خطونو په ذریعه خپل مرام مخکښې بوتلے دے او بیا دغه خطونو یو تاریخي حېثیت اختیار کړے دے او بیا د وخت په مروجه رسالو او اخبارونو کښې چاپ شوي هم دي او د بعضې خطونو مجموعې هم پښتو ادب کښې مخې ته راغلي دي، لکه "د باچا خان لیکونه" چې د سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار په ترتیب او تدوین د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې جرمني له خوا په کال ۲۰۰۸ء کښې په کتابي شکل کښې چاپ شوي دي، چې پکښې د باچا خان خطونو د مختلفو خلقو په نوم لېږلي شوي دي، د دې په حواله بختانے صېب لیکي:

"دا لیکونه د هغه وخت او اوس هم د پښتو لیکونو او مراسلاتو یوه غوره خوږه او په زړهٔ پورې مجموعه ده چې په ژبه ډېره ساده او روانه ژبه لیکل شوي دي، نو دا لیکونه تاریخي، سیاسي، اجتماعي او کولتوري لوړ ارزښت لري".[31]

دغه شان د ولي خان خطونه د "سوغات" په نوم ترتیب او تدوین یې جهانزېب نیاز کړے دے، دا کتاب په جولایي ۲۰۰۶ء کښې چاپ شوے دے، په دې کتاب کښې د ولي خان خطونه د جهانزېب نیاز په نوم لیکلي شوي دي او داسې نور ډېر خطونه نورو خلقو ته لېږلي شوي دي، چې مقصد یې خپل قامي سیاست ؤ او داسې نور خطونه د عبدالاکبر خان اکبر، قاضي عطاء الله، ماسټر عبدالکریم. د مولانا فضل محمود مخفي خطونه چې په مختلفو مجلو کښې شائع شوي دي او یو شمېر خطونه یې په ناچاپه صورت کښې اوس هم شتون لري.

هم دغه شان ساقي صېب هم په مکتوب نګارۍ کښې د نورو ملګرو نه وروستو نهٔ دے پاتې شوے، ساقي صېب هم د کور نه د دورې په وخت او د جېل نه په باقاعده توګه خطونه لیکلي دي، دغه خطونو هم یو تاریخي حېثیت اختیار کړے دے، که یو طرف ته لکه د نورو خدائي خدمتګارو ساقي صېب په نثر کښې خطونه لیکلي دي نو بل طرف ته یې په نظم کښې هم منظوم انداز کښې ډېر په ښهٔ انداز کښې د مکتوب نګارۍ فن ژوندے ساتلے دے.

د ساقي صېب څهٔ لږ نهٔ بلکې ډېر خطونه د هغه وخت په "پښتون"، "لار"، "کلپانے" او داسې نورو د پښتو مجلو کښې چاپ شوي دي، خو ولې نن هم د ساقي صېب د خطونو یوه ناچاپه مسوده له زامنو سره پرته ده چې د هغې نقل له ماسره دے. د دې خطونو تعداد تقریباً دوه سوه (۲۰۰) نه زیات دے چې زیات تر پکښې د جېل په دوران کښې لیکلي شوي دي چې زیات تره رابطه یې د خپل کوروالو سره شوې ده، څو خطونه پکښې داسې هم دي چې باچا خان ورته رالېږلي دي او څهٔ دوي هم هغوي ته او نورو خدائي خدمتګارو ته وخت په وخت د جېل نه او د جېل نه بهر د دورو په دوران کښې لېږلي دي، دغه ټول خطونه د تحریک د روایاتو مطابق په دې خطونو کښې قامي آزادي، د پښتو ژبې او ادب پرمختګ، د پښتون معاشي، معاشرتي او سیاسي مسئلو باندې بحث شوے دے.

**موږه که وګورو نو د خدائي خدمتګار غورځنګ چې څنګه د شاعرۍ موضوع سبک او اسلوب یو شان دے نو دغه شان یې د نثر د لیکلو سټائل او انداز یو شان دے، ټولو نثر نګارانو اسلوب هم یو شان دے، خوا که هغه افسانه ده، که ډرامه ده، که تاریخ دے او که خطونه، خو ټولو یو شان نثر لیکلے دے، د مثال په توګه د څو خطونو نمونې وړاندې کوم.**

باچا خان خط د سنټرل جېل احمد آباد نه غني خان او ولي خان ته یو خط کښې داسې لیکي:

"خوږه غني جانه او ولي خانه!

اسلام علېکم و رحمة الله و برکاته!

ستاسو خط راورسېدو، په لیدو یې ډېر خوشحاله شوم، شکر دے چې تاسو په ښهٔ او بد پوهه شوي، وایي چې د سحر ورک ماښام کور ته راشي نو ورک نهٔ وي، د ولي ښهٔ والے مې یقین دے، ولې چې د هغه په باره کښې تا هم لیکلي دي او اکثر نور خلق هم راته لیکي، لېکن ستا په دې به هله یقین وکړم چې نور خلق راته ولیکي. غني جانه! د هر چا ښهٔ والے او بد والے د ځان دپاره وي، که چرې یو سړے ښهٔ شي نو هغه ته به فائده وي او که چیرې بد شي نو هغه به په تکلیف کښې وي.........................
ستاسو خوږ بابا عبدالغفار"[32]
که مونږه وګورو نو باچا خان څومره په ساده او روانه ژبه کښې خپلو زامنو ته خط کښې لیکي او دا تاثر ورکوي چې بچي بد کارونه نهٔ کوي، ځکه چې په معاشره کښې ژوند کول ډېر ګران کار دے، که څوک ښهٔ کوي نو په ښهٔ نوم به یادېږي او که څوک بد کوي نو په بد نوم باندې به یادېږي او د بدو اعمالو بد انجام وي. که مونږه دې خط ته ځیر شو نو باچا خان یو ځائے د خپلو زامنو پلار نهٔ بلکې د ټولو پښتنو پلار ؤ او ټول اولس یې خپل ځان او زامن ګڼل، ځکه چې د اولس غم د هغوي خپل غم ګڼلو او هم د دې دپاره یې جېلونه او سختۍ برداشت کړي دي او دغه روایات نورو لیکوالانو هم خپل کړي دي. د خدائي خدمتګار تحریک چې څومره هم مونږه د خطونو موازنه کوو نو د ټولو خطونو موضوع یوه ده، دغه تسلسل ولي خان هم ژوندے ساتلے دے، د یو خط نمونه یې دلته وړاندې کوم.
"ګرانه بلو خوشحاله اوسې!
اسلام علېکم و رحمة الله و برکاته!
............... دا د ځان نه کشرانو ته نصیحتونه کول څهٔ داسې یو فطري مرض غونډې دے چې خوږمن هر مشر یې خپل کشر ته کوي او کشران هم په خپل فطرت ټول عمري په دې مداخلت ډېر تریخ ګڼي، ولې دا سلسله هم دا رنګې د ارت او د لوټکو شان وي، په هر چا وار په وار راځي، که زهٔ اوس درته ووایم چې د خپل وخت نه زیات فائده واخله، نو تهٔ به وایې چې هم هغه زړه قیصه کوي چې کومې نه زړهٔ چوي...
............ستا دادا ولي"[33]
هم دغه خط کښې لکه د خپل پلار په شان نصیحتونه کول او ساده ژبه کښې خبره بیانول د دوي اسلوب ؤ خو چې کله خبره نورو خدائي خدمتګارو ته راځي نو دوي هم دغه رویه خپله کړې ده، ټولو خدائي خدمتګارو په خطونو کښې یووالے ښکاري او چې کله مونږه خبره د ساقي صېب کوو نو دا خبره ډېره واضحه کېږي چې ساقي صېب هم دغه انداز خپل کړے دے او لکه د نورو خلقو په شان یې د خپل قامي فکر، د آزادۍ جذبې، د استعمار مخالفت کړے دے او د خپلو خطونو موضوع یې هم دغه ګرځولې ده، ساقي صېب د خپل کور نه لرې د جېل په بندي خانه کښې خپل کور ته یو خط کښې د جېل دننه احساسات داسې انځور کوي:
"ښاغلیه ریاض جانه روغ اوسې!
اسلام علېکم و رحمت الله و برکاته!
د خدائے فضل دے ستاسو دعا ده، زهٔ روغ جوړ یم، ستاسو خېر غواړم، دوه څلور ورځې وشوې چې د اعجاز خط نهٔ دے راغلے.......... ستاسو سره مې زړهٔ او روح هر وخت ملګري وي او فکر کوم چې په کوم کار کښې به بوخت وي، څوک به ورسره وي کنه، ګوره به راوباسي که پوګ به لړي، که چکو ته به ناست وي، که بوزغلي نه به چاپېره ګرځي، که اېمل خان او تجلی به ګنډې کوي، جوړ به وي که ناجوړه، خفه به وي که خوشحاله، ویښ به وي که اودهٔ، ولاړ وي که ناست، ستا خط لیکل هم لویه بین الاقوامي مسئله وي، څو ورځو کښې لیکلے کېږي...................
خدائے دې ستاسو دغلته ملګرے شي او زمونږ دلته، ځکه چې هر څه د هغه د قدرت په لاس کښې دي، بنده هیڅ نهٔ شي کولے، خېر به ترې غواړو او د هغه کارونو به صبر او شکر کوو، په کور کښې وړو لویو ته مې دعا سلامونه ووایه، د هغه بهادر څه پته لګي کنه چې کوم ځائے دے.
سلام علېکم د خدائے په امان
ستاسو بابا جان فضل الرحیم
سیاسي قېدي، سنټرل جېل، ډېره اسماعیل خان،
۱۳، ۱۲، ۱۹۶۲ء"[34]
د پورتني خط د یوې ټوټې نه مونږه په دې نتیجه رسو چې ساقي صېب د خپل کور پرورش څومره په ښکلي طریقه کوي او څومره په ساده ژبه کښې خپله کلي واله ژبه استعمالوي، لکه کانړے، پوګ، چکۍ، اتره، کور کلي، غم ښادي او داسې نور، د کور د ماشومانو سره مینه او په خبرو خبرو کښې د هغوي ترتیب کول، دا د ساقي صېب کمال ؤ.
د ساقي صېب نثر روان او ساده دے، په خط کښې د موقع محل مطابق د شعر دوه کسان چې یو بل ته مخامخ ولاړ وي او خبرې کوي او په هغوي کښې د متل او ټپې د استعمال سره سره خبره نوره هم وزني شي، مونږه دا وئیلے شو چې د ساقي صېب نثري اسلوب ډېر خوږ او ساده دے، په اسانه او عام فهمه طریقه پرې هر سړے پوهېږي، د نثر انداز یې عامیانه دے.
د دې نه وروستو په پښتو ادب کښې دغه سټائل نورو خلقو هم خپل کړے دے او دغه سلسله لا روانه ده، په پښتو کښې د خطونو څو مجموعې هم چاپ دي، لکه "مکتوباتِ حمزه" چې ملک عبدالرحمان په کال ۱۹۹۷ء کښې د جدون پرېس پېښور له خوا چاپ کړے دے، چې پکښې د حمزه بابا خطونه د ملک عبدالرحمان په نوم شائع شوي دي، دې نه علاوه د طاهر اپریدي خطونه "ګوټې قلم ته په ژړا شوې"، "انسان او خدائے" د همایون هما خطونه "د امیر حمزه خان خطونه د هما په نوم" مجموعې چاپ شوي او څه نور خطونه هم دي چې په مختلفو مجلو کښې شائع کېږي. انشاء الله چې ډېر زر به د ساقي صېب ناچاپ خطونه هم مخې ته راشي، ځکه چې دا یو قومي امانت دے او دا په کتابي شکل کښې چاپ کول زمونږ فرض دي.
تاریخ نویسي
د پښتون قام د اول نه دا بدقسمتي ده چې د پوهې او تعلیم کمے څه چې د نشت برابر دے، هم دغه وجه ده چې لیک لوست او تاریخ یې نهٔ دے لیکلے شوے او دغه وجه ده چې زمونږ ډېر تاریخي واقعات خاورو لاندې شوي دي، زمونږ د مېړانې ډېر واقعات یا خو بېخي ورک کړے شوي دي او یا بدل کړے شوي دي، دا هم ډېره د افسوس خبره ده چې د پښتنو د اول دور تاریخ غېرو پښتنو لیکلے دے او تر اوسه مونږ دا سپیناوے هم ونهٔ کړے شو چې پښتانهٔ څوک دي؟ او څه دي؟
خو بیا هم په شلمه پېړۍ کښې چې خدائي خدمتګار غورځنګ دا ځواني وکړه چې اول یې دا محسوسه کړه چې لیک لوست له دوام ورکړي او د دې کمي پوره کولو دپاره یې آزاد سکولونه هم پرانستل خو د هغه وخت پېرنګي حکومت برداشت نهٔ کړے شو او زر یې پرې بندېز ولګوو، په دغه حواله باچا خان په خپل ژوند لیک کښې داسې لیکي:
**"په ۱۹۱۰ء کښې ما او مولوي عبدالعزیز خان یوه مدرسه په اتمانزو کښې جوړه کړه او د نورو مدرسو جوړولو دپاره مو په نورو علاقو کښې دوره شروع کړه، د خلقو توجه مې د علم طرف ته کړه او د پښتنو په زړونو کښې مې د علم د ضرورت احساس پیدا کړو او دغه شان مو وړو وړو په مختلفو علاقو کښې د مدرسو جوړول شروع کړل او په لږ وخت کښې ډېرې مدرسې جوړې کړې".**[35]
ښاغلے عبدالولي خان په خپل کتاب "باچا خان او خدائي خدمتګاري" کښې لیکي:
"د انجمن اصلاح الافاغنه ښاخونه په ټولو علاقو کښې جوړېدل او ځائے په ځائے سکولونه پرانستلے شو، باچا خان او د هغه ملګري په دې سلسله کښې د نزدې او لرې علاقو په دورو ووتل او پښتنو کښې یې د تعلیم د شوق پیدا کولو کوشش کوو، حقیقت دا دے چې پښتنو تعلیم ته مخه

کړله او ورو ورو هلکان راتلل، سکولونو ته استاذان د نوکرۍ دپاره نا بلکې د خدمت په جذبه راتلل او یو قسم خاموش انقلاب د پښتنو په معاشره کښې راتللو چې حکومت او ترولو او په کال ۱۹۲۱ء کښې یې باچا خان بیا ونیولو او درې کاله یې قېد کړلو".[36]

هم دغه وجه ده چې کله دا ازادې مدرسې شروع شوې نو خلقو لیک لوست ته مخه کړه او ورو ورو یې د پښتنو په مسائلو، تاریخ، کلتور، ژبه او داسې نورو بنیادي خبرو باندې لیک شروع کړو او پښتانهٔ یې د لیک لوست جوګه کړل او خدائي خدمتګارو تاریخ ته پاملرنه وکړه او ښه په بشپړه توګه یې تاریخ ولیکلو چې پکښې څو مشهور دا دي، باچا خان په خپله هم یو تاریخ "زما ژوند او جدوجهد" په نوم ولیکلو، دغه شان عبدالاکبر خان اکبر "د برصغیر په ازادۍ کښې د پښتنو برخه، څهٔ لیدلي څهٔ اورېدلي"، د احمد کاکا "خدائي خدمتګاري" دوه جلدونه، د ولي خان "باچا خان او خدائي خدمتګاري" څلور جلدونه، د عبدالخالق خلیق "د ازادۍ جنګ" منثور او دوېم "زهٔ او زما زمانه" منظوم، د قاضي عطاء الله "د پښتنو تاریخ" او داسې نور ډېر تاریخي کتابونه او تاریخي لیکونه چې د وخت په رسالو کښې چاپ دي، دا د دې غورځنګ پېداوار دے.

فضل الرحیم ساقي هم په دغه خلقو کښې شامل ؤ چې دا احساس یې لرلو چې د دغه وخت تاریخ محفوظ کړي، ساقي صېب چې کوم لیکونه کړي دي په هغې کښې د ډېرو زاویو نه د تاریخ ننداره کېږي. ساقي صېب د شعر و شاعرۍ نه علاوه په نثر کښې د پښتنو تاریخ هم خوندي کړے دے چې د هغه زیاتره برخه په څلورو کتابونو کښې ده، لکه "زما ژوندون"، "د صبر جنګ"، "خدائي خدمتګار" او "د باچا خان کفایت شعاري" ده.

**بنیادي طور سره که مونږه دې کتابونو ته وګورو نو دا د هغې کتابونو تسلسل دے کوم چې د خدائي خدمتګارو پېشه وه، نوروخدایي خدمتګارو هم دغه رنګ تاریخونه لیکلي دي، د لیکنو په حواله ساقي صېب په خپل کتاب کښې د باچا خان هغه وېنا رانقل کوي کوم چې دوي ته باچا خان کړې وه چې تاسو روزانه څهٔ نه څهٔ لیکل کوئ نو خوندي کوئ یې هم.**

"ما خپلو ټولو تعلیم یافته ملګرو ته دا خبره څو ځله وکړه چې تاسو د پښتنو کوم خدمت کوي، چې دې سره سره د دې متعلق لیکل هم پرې کوي، په دې شان به زمونږ د دې تحریک تاریخ هم جوړ شي او د پښتو ژبې خدمت به هم وشي، لکه څه رنګې چې ساقي صېب په دې لار کښې کوشش کړے دے، که دغه شان زمونږ نورو ملګرو ادیبانو کوشش کړے دے یا وکړي نو دې سره به پښتو ژبه ترقي وکړي او دا د پښتو او د پښتنو لوئے خدمت دے".[37]

که مونږه وګورو نو نورو لیکوالانو هم د بابا دغه وېنا په ځائے کړې وه، خو ساقي صېب بېخي د وېنا فرض پوره کړے ؤ نو ځکه خو یې د پښتنو تاریخ ته څلور کتابونه ورکړل، په دغه ټولو تاریخي کتابونو کښې د ساقي صېب اسلوب ډېر ساده او کلي واله لهجه کښې لیکلي شوي دي، د دې دور نورو تاریخي کتابونو ته مونږه وګورو نو بعضو کښې د واقعاتو تسلسل مات ښکاري، دا خو د ساقي صېب "د صبر جنګ" او "خدائي خدمتګاري" کښې دغه تسلسل موجود دے او د هرې واقعې، د جېل دوران، د بابړې واقعه، د حبیب نور واقعه، د قیصه خوانۍ پېښه او داسې نورو اهمو پېښو باندې ډېره په موثره ژبه کښې لیکل کړې دي.

د ساقي صېب په نثري اسلوب او کتابونو باندې ما په مخکښې په تفصیل سره بحث کړے دے، خو دلته صرف دا واضحه کول غواړم چې ساقي صېب په صفت د یو تاریخ لیکونکي ډېر لوئے کار کړے دے او پښتو ادبي او سیاسي تاریخ کښې یې ځان ژوندے ساتلے دے.

**د ساقي صېب د نثر اسلوب د نورو خدائي خدمتګارو په شان خوږ او روان دے، د دې نمونې مونږه ته د ساقي صېب په نثر کښې په نظر راځي، ساقي صېب د مومندو د دورې تاثرات په خپل انداز کښې داسې بیانوي:**

"امن زمونږه د داخلي پښتنو په نسب ازاد قبائلو پښتنو کښې امن زیات وي، دغلته په کلونو کلونو کښې قتل واردات نهٔ کېږي، یو خو هر چاسره وسله ده، خپل ځانونه ساتي، بل قتل صرف د قتل په بدل کېږي یا په زنا باندې قتل کېږي، زړې دښمنۍ پکښې شته خو اکثر پکښې قامي مشران یا زبرګان او مُلیان تیره کېدي".[38]

د ساقي په نثري اثارو کښې ډېرې تاریخي او عبرتناک واقعات هم شته، د نورو لیکوالانو په شان ساقي صېب هم د هرې پېښې ذکر په منظوم او منثور انداز کښې کړے دے، لکه د حبیب نور واقعه چې نورو مؤرخینو ورته هم اشاره کړې ده، خو ولې ډېره په تفصیل سره نهٔ ده، ساقي صېب دغه واقعه ډېره په ادبي انداز کښې لیکلې ده.

**"د اتمانزي قوم یو غړے د یخ ډنډ اوسېدونکے شاه زلمي حبیب نور دغلته تنګ شو، چارسدې نه راروان شو، وئیل یې چې د چارسدې حاکم په تماچه ولم چې دا خپل ورونړه د ظلم زور نه خلاص کړم، د چارسدې د سیند نه قبلې غاړې ته یې د حصار په ډېرۍ کښې په تماچه ډزې وکړې، کره یې کړه او بیا تحصیل ته روان شو، سحر وختي ؤ چې د پېرنګي بنګلې ته راورسېدو، پېرنګے د بنګلې نه کچرۍ ته روان ؤ چې دهٔ خط ورکړو، وې دا وګوره، هغه خط واخستو، مخکښې روان شو، حبیب نور ورپسې روان وه چې تماچه یې راوښکله، په دهٔ یې د شا د طرفه کېښوده، وې چلوله خو یو ډز یې هم ونهٔ کړو، پېرنګي یې کرچا واورېده نو شاته یې کتل، حبیب نور تماچه په لاس واړ ؤ".[39]**

دغه ټوله واقعه یې په داسې انداز کښې کړې ده چې اورېدونکي ورته حق حېران شي، چې ګني دا واقعه د دهٔ په مخکښې کېږي، دا د ساقي صېب د نثر کمال دے چې لوستونکي له ځان سره بوځي.

لنډه دا چې د ښاغلي لیکوال نثر ډېر خوږ، روان او په ادبي ژبه کښې لیکلے شوے دے، د دې اسلوب د خدائي خدمتګار تحریک د لیکوالانو په شان دے، د واقعاتو تسلسل لوستونکي ته خوند ورکوي، دغه شان چې که ادبي دوره ده یا سیاسي دوره ده، که د جېل حالات دي او که جېل نه بهر نو د حالاتو داسې منظر کشي یې کړې ده چې لوستونکي ورته حېران پاتې شي چې مخکښې به څه کېږي.

---

1 رضا، محمد افضل، د پښتو د نثر تاریخ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، دوهم ځل، ۱۱ اکتوبر ۱۹۹۵ء، ۱۰۲ مخ.
2 اکبر، عبدالاکبر خان، ادبي پنګه، منظور عام پرېس پېښور، درېم ځل، ۱۹۷۲ء، ۲۸ مخ.
3 رښتین، صدیق الله، د پښتو ادب تاریخ، دوېم ځل، ۱۳۷۷، ۵ مخ.
4 حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړے او دوېم ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، چاپ کال ۱۳۸۶/۲۰۰۵ء، ۱۲ مخ.
5 ادب څهٔ دے؟، شعېب سنز پبلشرز اینډ بک سېلرز، سوات، درېم ځل، ۱۹۹۶ء، ۳۱ مخ.
6 رضا، افضل، د پښتو د نثر تاریخ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، دوهم کال، ۱۹۹۵ء، ۷۱، ۷۲ مخونه.
7 انوارالحق، سید، پښتو درې میاشتنۍ، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۱۹۸۵ء، ۹۶ مخ.
8 پښتو ادب، اداره اشاعت سرحد پېښور، کال ۱۳۷۰، ۷۰ مخ.
9 عبدالقادر، مولانا، پښتو نثر مجله پښتو، درې میاشتنۍ، پښتو اکېډیمي، پېښور پوهنتون، چاپ کال ۱۹۵۷ء، ۷۰ مخ.
10 خټک، فضل میر، فضلیات، چاپ کال ۱۹۹۹ء، ٤۲۷ مخ.
11 مغموم، یار محمد، روښانیان او پښتو ادب، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، نومبر ۲۰۱۱ء، ۳۰۳ مخ.
12 انصاري، بایزید، خېر البیان، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، اول ځل، جون ۱۹٦۷ء، ۱۰ مخ.
13 همدغه اثر، ۱۳ مخ.
14 مریم، بي بي، د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جائزه، جدون پرېس پېښور، ۱۹۸٦ء، ۲۹ مخ.
15 هاشمي، محي الدین، سید، د نثري ادب ډولونه، وحدت خپرندویه ټولنه، چاپ کال ۱۳۸۹المریز، ۳۰ مخ.
16
17 رضا، محمد افضل، ډرامه تاریخ او فن، عظیم پبلشنګ هاؤس پېښور، ۱۹۸۵ء، ٤۷ مخ.

18 اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښي کردارنګاري، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۱۹۹۳ء، ۴۰۱ مخ.
19 خلیق، عبدالخالق، د ازادۍ جنګ، اداره اشاعت سرحد پېښور، کال ۱۹۷۲ء، ۴۲ مخ.
20 حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، تماشې، د اماراتو پښتو ادبي ټولنه مرکز دوبۍ، کال ۲۰۱٤ء، ۳۰۷ مخ.
21 حسرت، محمد زبېر، درې قیصې، پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچا خان پوهنتون چارسده، کال ۲۰۱۳ء، ج مخ.
22 درې قیصې، پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون چارسده، جولایي ۲۰۱۳ء، ۳ مخ.
23 همدغه اثر، ۲٦ مخ.
24 حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، تماشې، ۳۰۷ مخ.
25 وطن یار، اشفاق، د ماسټر عبدالکریم ژوند او فن، پښتو ادبي غورځنګ، شالکوټ، فروري ۲۰۱ء، ٤٦ مخ.
26 ادیب، عبدالکافي، خورې پاڼې، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، درېم ایډیشن، ۱۹۹۵ء، ۲٤ مخ.
27 انځور، محمد زرین، پښتو معاصر داستاني ادبیات، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه جرمني، دانش خپرندویه ټولنه کابل، ۱۳۹۳هـ ش/۲۰۱٤ء، ۸۰ مخ.
28 وطن یار، اشفاق احمد، د ماسټر کریم ژوند او فن، پښتو ادبي غورځنګ، شالکوټ، فروري ۲۰۱٤ء، ۱۱۸ مخ.
29 ساقي، فضل الرحیم، غم ښادي، غنچه پېښور، ۲۲ فروري ۱۹٦۱ء، ۸ مخ.
30 همدغه اثر، ۱۲ مخ.
31 خدمتګار، عبدالله بختانے، د باچا خان لیکونه، دوهم چاپ، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه جرمني، کال ۲۰۰۸ء، ۲ مخ.
32 همدغه اثر، ۲٤، ۲۵ مخونه.
33 نیاز، جهانزېب، سوغات، ملت پرنټنګ پرېس لاهور، جولایي ۲۰۰٦ء، ۳۱، ۳۲ مخونه.
34 ساقي، فضل الرحیم، ناچاپ خطونه.
35 عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد، دولتي مطبعه کابل، ٦٦ مخ.
36 خان، خان عبدالولي، باچا خان او خدائي خدمتګاري، اول ټوک، ولي باغ اشنغر چارسده، کال ۱۹۹۳ء، ۵۸ مخ.
37 ساقي، فضل الرحیم، د صبر جنګ، اولنے مخ.
38 ساقي، فضل الرحیم، ژوندون، سپین زر پرنټرز پېښور، چاپ کال ۱۹۷۹ء، ۷٤ مخ.
39 ساقي، فضل الرحیم، خدائي خدمتګاري، باچا خان ریسرچ سنټر پېښور، ۲۰۱۲ء، ۷۳ مخ.